# افغانستان آزاد ــ آزاد افغانستان

**AA-AA**

چو کشور نباشد تن من مبـــاد　　بدین بوم وبر زنده یک تن مــباد
همه سر به سر تن به کشتن دهیم　　از آن به که کشور به دشمن دهیم

afgazad@gmail.com　　www.afgazad.com

| حقوق بشر | Human Rights |
|---|---|

8 دسمبر 2009

نویسندۀ گرانقدر افغان، جناب شریف بهاند!
از مقالۀ ارزشمند شما ابراز سپاس کرده و تشریف آوری تان را به پورتال "افغانستان آزاد ـ آزاد افغانستان" از صمیم قلب خیر مقدم میگوئیم. آرزومندیم که همکاریهای خود را با پورتال ادامه داده و دانش تان را در خدمت وطندارانتان بگذارید.
موفق و سرفراز باشید.

با محبت های فراوان
ادارۀ پورتال ***AA-AA***

ليکوال: شريف بهاند
8 ، 12 ، 2009

هغو میندو ماشومانو ته،
چې تیارو رڼو د ژوند ربنتي (حقوق) ترې اخیستي دي.
شريف بهاند

# د بشر د ربنتو (حقوقو) په منل او پلی کیدو کې لوړې او ژورې

## د بشر د ربنتو د نړیوالي اعلامیې د خپریدو د یوشپیتم کال په ویاړ

نه هر بندی کناهگار دی
نـــه هـــر آزاد بیـــــگناه
پوهاند م. ا. زیار

انسان د ذاتي کرامت او وتکي (حیثیت) خاوند او یو تولنیز موجود دی. نوځکه ژوند ته د بنې د ورکړې او د هغه د دوام لپاره په تولنیزو چارو کې برخې اخیستنې او همدارنګه د خپلو نورو هغو همکارۍ ته اړتیا احساسوي او په دې توګه انسان د تولنیز ژوند ډګر ته په ور ګډیدو سره خپل سیاسي ـ اقتصادي او کلتوري کړه وړه د عمل په ډګر کې پلي کول غواړي. د همدې لامَل پر بنسټ د فرد او

دولت تر منځ اړیکي رامنځته کېږي. که څه هم د دولت د رامنځته کیدو سرچینه د اسرارو تر پردې لاندې ده، خو زیاتره ځانګیز پوهان په دې اند دي، چې هغه نه د کمزوری او ځواکمن تر منځ د لاس او ګریوان کیدو پایله، نه هم یو ټولنیز تړون او نه هم د کورنیو د پراختیا پایله، بلکي د بشري ټولنې د بیلابیلو پړاونو او د پر له پسې ودې لاسته راوړنه ده، چې په هغه کې بیلابیلو لاملونو د بیلګې په توګه خپلوی، دین، اقتصادي لاملونو، جګړې، شخړې او په تیره د برترۍ غوښتنې غریزې ستر او بنسټیز رول لوبولی دی . د روبرټ موریسون مک آیور Robert Morrison Max Iver د لید له مخې: "ځوک نشی کولی ووایي، چې دولت څنګه، څه وخت او چیرته رامنځته شوی ...". خو زما په اند " ... دولت یوازې هغه وخت رامنځته کېږي، چې اقتدار په حکومت او دود (عرف) په قانون بدل شي"، چې په دې برخه کې لکه څنګه چې یادونه وشوه، ټولنیزې ساتنې ته اړتیا، برترۍ غوښتنه او ځواک ته مینه بنودل، له بنسټیزو او غوره لاملونو ګڼل شوي دي. د انسانانو دا ډول غریزې دوي سیالۍ ته رابللي، چې پایله یې د یو ډول پر له پسې مبارزې پیلول و. انګریز فیلسوف او سیاست پوه، همدې کړکیچنې وضعې ته جګړه ییز حالت ویلی او زیاتوی، چې: "د ټولو جګړه له ټولو سره" ده. ځکه "انسان ... انسان ته د لیوه په څیر دی"(۱). نو ښه به دا وي، له دغې وضعې څخه د خلاصون او د سولې او امنیت لپاره، ټول وګړي خپل طبیعي رښتې او همدارنګه خپل واک یو شخص او یا د اشخاصو یوې ټولنې ته، چې د واکمن یا واکمنانو په نامه یادیږي، وسپاري.
نورو لیکوالو د ساری په توګه له افلاطون او ارسطو نیولې بیا تر جان لاک John Locke ، ژان ژاک روسو Jean-Jacques Rausseau ، نیکولو ماکیاولی Niccolo Mackiavelli، ژان بُدَن Jean Bodin، جورج ویلهم فریدریش هګل Georg Wilhelm Friedrich Hegel ، اګوست کنټ Auguste Comte ، ماکس ویبر Max Weber او داسې نورو هم د وخت د شرایطو او د ټولنیزو پرمختیاوو په پام کې نیولو سره د دولت د رامنځته کیدو، تکامل، د هغه د دندو او کړو وړو په اړه خپل اندونه وړاندې کړي، چې د دې لیکنې موخه د هغو څیړنه نه، بلکې بنسټیزه مسأله د دولت د بیلابیلو ډولونو (نوع) او بڼو (شکل) د سیاستونو په ترڅ کې د بشري ټولنې د وګړو د آزادۍ سمبالښت (تأمین) او د دوي د رښتو د تر پښو لاندې او د هغو د بیرته د ترلاسه کولو روښانول او د رښتو څیړنه ده. ځکه فرد د ټولنیز موجود په توګه د دې غوښتونکی دی، چې دولت دې نه یوازې د ده د طبیعي او مدني رښتو او آزادۍ احترام ولري، بلکې هغه دې باید رعایت هم کړي.

نو تر ټولو مهمه پوښتنه دا ده، چې په څه ډول کیدی شي، بشري رښتې تر پښو لاندې نه او آزادی په ښه توګه خوندي شي؟ د چارلز ده منتیسکیو Charles de Montesquieu په اند: په دې برخه کې تر ټولو ښه پرنسیپ د ځواک ویش دی. د نوموړي د لید له مخې، باید اجرائیه، مقننه او قضائیه ځواکونه د دولت د ارګانونو په توګه یو د بل په وړاندې د انډول (تعادل) د رامنځته کیدو په موخه، په خپلواکه توګه کړه وړه تر سره کړي (۲). خو تاریخي تجربو ثابته کړې، چې د دولت د جوړښت له دغه تکامل سره سره، بیا هم د بشري پرګنو طبیعي او مدني رښتې، په پر له پسې توګه د واکمنو او ځواکمنو له خوا تر پښو لاندې شوي، ولسي پرګنې ځورول، رټل او زندي او له دوي سره نادودې شوي او همدارنګه هغوي ان د مرګ په سزأ محکوم شوي دي. د همدې غیر انساني چلند او ناخوالو د مخنیوي لپاره، څه په لرغون پېر (عصر) او څه هم په نوی هغه کې، پوهانو او فیلسوفانو په خپلو ویناوو او اثارو او همدارنګه بیلابیلو ګروهو (عقایدو) او دینونو په خپلو روایاتو، آرونو (اصولو) او کړنلارو کې خلک وروګلوي، برابری، آزادی، عدالت، مینې او له جګړو او کړکې څخه مخنیوي ته وربللي دي. دا په دې مانا چې د بشر رښتې لکه څنګه چې ځینې ادعا کوي، نه د اوسنی پېر لاسته راوړنه، نه هم د کوم ځانګړی تمدن او ملت ارزښتونه او نه هم په کوم تاریخي پړاو پورې محدود دي.

لکه څنګه چې په پورتنیو کرښو کې یادوه وشوه، د بشر رښتې نه یوازې په تیرو پیړیو او پړاونو کې د واکمنو او زورواکو له خوا تر پښو لاندې شوي دي، بلکې دا کړنه په دریمې زریزې کې هم هره ورځ په نړۍ کې، ان د هغې د ډیرو پرمختللو هیوادونو له خوا په بیلابیلو پلمو تر سره کېږي. خو له شکه پرته د بشر د رښتو او بنسټیزو آزادیو رعایت یوازې هغه وخت شوني کېږي، چې وګړي په خپلو

رښتو پوه او هغه وپیژني. د بشر د رښتو زده کړې او د هغو د پیژندنې بنسټیز ارزښت ته په نړیوالو لاسوندو کې هم نغوته شوي ده. د بیلګې په توګه د بشر د رښتو د نړیوالې اعلامیې د شپږویشتمې مادې په دویم بند کې راغلي: " د زده کړو موخه باید د انسانی شخصیت بشپړ غوړیدل او وده او د بشر د رښتو او بنسټیزو آزادیو درناوی وي". د همدې اړتیا له مخې یا په بله وینا د هیوادوالو د پوهاوي او خبرتیا لپاره هڅه شوې، چې په دې لیکنه کې په تیره د بشر د رښتو د اوسنۍ اعلامیې زړی له تاریخي پلوه په علمي ـ څیړنیزه توګه راوسپړل شي. په دې هیله چې هغه د بشر د رښتو د آرونو په پیژندنه کې مرستندوي شي. باید یادونه وکړم، چې په دې لیکنه کې د بشر رښتي د آسماني دینونو لکه یهود، مسیحیت او د اسلام د سپیڅلی دین په رڼا کې نه دي څیړل شوي. ښه به دا وي، چې دغه رښتي د نومړو هغو ځانګیز پوهان او څیړونکي په هر اړخیزه او ژوره توګه وڅیړي.

## د بشر د رښتو لومړني متونه:

څیړنو دا روښانه کړې، چې بشري رښتي د انسانانو د تاریخ په څیر لرغوني، د دوي له زوکړې سره سم منځته راغلي او د بشر معنوي، نه بیلیدونکي او ذاتي هغه ګڼل کیږي. د همدې لامَل پر بنسټ، بشریت د تاریخ په اوږدو کې د خپلو دا ډول رښتو د ترلاسه کولو په موخه لاس په مبارزه پورې کړې، چې په دې لاره کې دوي سره د زمکني او آسماني دینونو او مذهبونو روایات او آرونه او د ځانګیز پوهانو او فیلسوفانو ویناوې او آثار او لارښوونې مرستندوي وي او دي. د بیلګې په توګه له زیږدیز څخه مخکې زرتشت Zarathustra ویلی و: " د نورو په زیان کې خپله ګټه او نیکمرغي مه لټوه". نوموړی د زرتشتی دین د بنسټ ایښودونکی په توګه د بشري رښتو په باب خپل نظر په خپلو مذهبي روایاتو، آشور مازدا Ahura Masda کې په ښه توګه روښانه کړی دی. د ساری په توګه نوموړي د یسنا ـ په دیرشم هات کې وایي: "ما خواستاریم از زمره کسانی باشیم که جهان را به سوی پیشرفت و آبادی، و مردم را به سوی راستی و پارسایی ره نمایند. بشود که مزدا ما را یاری فرماید تا با نیروی اندیشه و دل (عقل و عاطفه) به سرچشمه دانایی پی ببریم" [۳]. په تیره د وګړو د لومړنیو رښتو، لکه د بیان او اندیشي آزادی، د استوګنځای د ټاکنې او سوکاله ژوند، د دین آزادی او داسې نورو هغو په اړه په ګاتا Gatha یا د زرتشت سرودې، کې نغوته شوې ده.

کنفوسیوس Konfuzius ، چې له زیږدیز څخه مخکې په ۵۵۱ ـ ۴۷۹ ژوند کاوه، هم په دې اړه ویلی و: " بدو ته په ښو او مهرباني ته په مهرباني ځواب ورکړي". او په بل ځای کې بیا وایي: "تر ټولو ښه انسان هغه څوک دی، چې د ټولو په حق کې نیکي کوي". بودا وایي: "د نورو اوښکې په ښادۍ بدلول، تر ټولو ستره نیکمرغي ده". فرانسوی فیلسوف او لیکوال، البر موره هم د بشر رښتو ته په نغوتې سره وایي: "که تاسو وکولی شي، له خپلې ګروهې په ډیره ښه توګه دفاع وکړي او په دې لاره کې ان د قربانۍ تر سرحده پورې هم مخ په وړاندې لاړ شي، باور ولري چې کوم ستر کار مو نه دی تر سره کړی. ځکه ستر کار هغه دی، چې نورو ته د هغوي د نړۍ لیداو افکارو په څرګندولو کې متعرف ووسي او د هغوي نړی لید او افکارو ته د درناوي په سترګه وګوري، که څه هم ښايي د هغوي نړی لید او افکار، ستاسو له نړی لید او ګروهې سره ستر او بنسټیز توپیر ولری".

خوږ ژبي شاعر، سعدی په دې باب څومره ښه ویلی دي:

بـــــنی آدم اعـضای یک پیکرند
کـــه در آفرینش ز یک گـــوهرند
چـو عضوی به درد آورد روزگـار
دگـر عـضو هـــا را نمــاند قـرار

تـو کـــز مـــحنت دیگران بی غمی
نشايــــد کـه نامت نـهـــد آدمـــــی

رحمان بابا هم په خپلو اشعارو کې دې موضوع ته ځومره ښه نغوته کړې او ويلی دي:

کر د ګلو کړه چې سيمه دې ګل زار شي
اغزي مه کره په پښو کـې به دې خار شـي
ته چـــې بل په غشو ولې هسی پوه شه
چـــې همدا غشی به ستا په لور ګوزار شي
کوهـــــی مه کنه د بل سري په لار کي
چېري ستا به د کوهی په غــــاړه لار شــي
آدم زاد په معـــنی واړه يو صورت دی
هـر چې بـل ازار وي هــغـه ازار شــي
که بل بد کانـــدي ته ښه ورسره وکړه
هر يو نخـــل چې ميوه لري سنګسار شي

## لرغون پېر:

خو د ډيرو ځانګيز او تاريخ پوهانو په اند د بشر د طبيعي او مدني ربنتو د احترام او ساتني په باب، تر ټولو لرغونی لاسوند، له زيږديز ځخه ۵۳۹ کاله مخکې په يو استوانی خاورين لوښی، چې د کوروش Kyros د ستر منشور Cyrus human right cylinder په نامه ياديږي، ليکل شوی دی:



Der **Kyros - Zylinder**
استوانی خاورين لوښی

اخځ:

http://de.wikipedia.org/wiki/Kyros-Zylinder

## لومړی ـ د کوروش Kyros ستر منشور:


کوروش په دغه ستر فرمان کې، د نورو گروهو (عقایدو)، دینونو او دودونو د آزادیو په باب خپل لید په لاندې ډول روښانه کړی او ویلی دي: " ... دین و آیین و رسوم ملت هایی [را] که من پادشاه آنها هستم، محترم خواهم شمرد و نخواهم گذاشت که حکام و زیر دستان من، دین و آئین و رسوم ملت های که من پادشاه آنها هستم یا ملت های دیگر را مورد تحقیر قرار بدهند یا به آنها توهین نمایند" [۴]. نوموړی د ملی واکمنې د آر په اړوند وایي: " ... هرگز سلطنت خود را بر هیچ ملت تحمیل نخواهم کرد و هر ملت آزاد است، که مرا به سلطنت خود قبول کند یا ننماید و هر گاه نخواهد مرا پادشاه خود بداند، من برای سلطنت آن ملت مبادرت به جنگ نخواهم کرد" [۵]. د ناخوالو، زور زیاتي او نادودو په وړاندې د دفاع حق د وگړو د طبیعي ربنتو یوه برخه ده او د هغو پالنه او ساتنه یو بنسټیز آر گڼل کیږي. دغه آر ته په پاملرنې سره کوروش وایي:" ... نخواهم گذاشت، کسی به دیگري ظلم کند و اگر شخصی مظلوم واقع شد، من حق وی را از ظالم خواهم گرفت و به او خواهم داد و ستمگر را مجازات خواهم کرد" [۶]. نوموړي د مالکیت د حق په اړه، په خپل ستر فرمان کې ویلی: " ... نخواهم گذاشت مال غیر منقول یا منقول دیگری را به زور یا به نحو دیگر بدون پرداخت بهای آن و جلب رضایت صاحب مال، تصرف نماید" [۷]. دین او د استوگنځای ټاکنې ته په پاملرنې سره، کوروش په خپل منشور کې زیاتوي: " ... هر کس آزاد است، که هر دینی را که میل دارد، بپرستد و در هر نقطه که میل دارد سکونت کند، مشروط بر اینکه در آنجا حق کسی را غضب ننماید، و هر شغلی را که میل دارد، پیش بگیرد و مال خود را به هر نحو که مایل است، به مصرف برساند، مشروط به اینکه لطمه به حقوق دیگران نزند" [۸]. د مریی او مینځې د ساتنې او راکړې ورکړې په اړه بیا وایي: " ... نخواهم گذاشت که مردان و زنان را بعنوان غلام و کنیز بفروشند و حکام و زیر دستان من، مکلف هستند، که در حوزه حکومت و ماموریت خود، مانع از فروش و خرید مردان و زنان بعنوان غلام و کنیز بشوند و رسم بردگی باید به کلی از جهان برافتد" [۹].

ځانگیز پوهانو د کوروش دغه فرمان د لرغونو شرایطو په پام کې نیولو سره، په تیره وگړو ته د هغوي د ټولنیزو ربنتو او آزادیو د ورکړې په برخه، ډیر باارزښته لاسوند بلل دی.

## دوهم ـ د آزادۍ ستره اعلامیه یا مگنا کارتا Magna Carta:

تاریخي تجربو دا روښانه کړې، چې د یو ارکان په توگه د دولت له رامنځته کیدو وروسته، په خپله هغه ان تر نن پورې، په پر له پسې توگه پر وگړو زور زیاتي او نادودې تر سره او د انسانانو مدني ـ سیاسي، اقتصادي ـ ټولنیز او کلتوري ربنتې یې تر پښو لاندې کړي دي. نو ځکه د بشري ټولنې وگړو د خپلو هغو د بیرته د ترلاسه کولو او همدارنگه د واکمنانو د نامحدود واک د محدودولو په موخه لاس په مبارزه پورې کړي، چې د ځینو دغو مبارزو لاسته راوړنې تاریخ جوړونکې بلل کیږي. ښه بیلگه یې د دیارلسمې پیړۍ په پیل کې په انگلستان کې د ټولواک، لومړی جان Johann I د نامحدود ځواک د محدودولو او د مالیاتو د کمښت لپاره د نورو ترځنگ د ځینو سیاسي، مذهبي مشرانو، ځوان بورژوا او په تیره د ناراضه اشرافیانو مبارزه وه. دربار له خپلو ټولو شونتیاوو څخه په کار اخیستنې سره، د دا ډول غوښتنو په وړاندې ټینگاو (مقاومت) کاوه. خو د وگړو مبارزو هم شدت موند، بالاخره ټولواک دې ته اړ شو، د خلکو غوښتنو ته، په لیکل شوی توگه غاړه کیږدي. ډیر ځانگیز پوهان دغه لیکل شوی لاسوند، چې په نړیواله کچه د آزادۍ ستره اعلامیه یا مگنا کارتا Magna Carta یادیږي، د بشر د ربنتو په اړه تاریخ جوړونکی او د بشر د ربنتو د اوسنې اعلامیې زیږی بولي. مگنا کارتا د ۱۲۱۵ زیږدیز کال د جون د میاشتې په ۱۵ اعلام شوې ده. د هغې په سریزه کې راغلي: " ... خپلې کورنۍ، د دربار نورو اشرافو، مشرانو، د دولت لوړ رتبه کارکونکو، جنگیالو، د سپیڅلې کلیسا مشرانو او خپلو نورو وفادارو اتباعو ته نیکې هیلې او دعاوې وړاندې کوم او د لوی او بښونکی خدای «ج» په نامه، د خپلو تیرو او راتلونکو نسلونو او سپیڅلې کلیسا ته د احترام په وړاندې کولو سره، د هیواد د

ښیرازي، ښیګنو او پرمختګ په موخه خپل آزادو اتباعو ته د یو لړ ربنتو د ورکولو اعلام کوم.
..."(۱۰) .



اخځای:

http://www.princeton.edu/~lawjourn/images/Magna%20Carta.jpg

دغه لاسوند ۶۳ مادې او د هغې ځيني په لاندې ډول دي:

### لومړی ماده:

... په دغه لاسوند سره تأييدوم، چې انګليسی کليسا بشپړه آزادی او د هغې ربنتي د تل په شاني له لاسوهنې خوندي دي. سربيره پر دې ټول هغه ربنتي چې په دغه لاسوند کې له هغو يادونه شوې ده، خپلو آزادو اتباعو ته ورکوم. ..."(۱۱) .

### اتمه ماده:

کې ويلی شوي دي: " هيڅ کونډه د هغې له خوښې پرته، بايد دې ته اړه نه شي، چې خپل ژوند له بل چا سره شريک کړی. ... " .

### شپاړلسمه ماده:

" هيڅ څوک بايد د تر لاسه شوې تقوی له بيې، زيات کار او چوپړ ته اړ نه کړی شي. ...".

**درویشتمه ماده:**

" د قوانینو له پام کې نیولو پرته، باید هیڅ یوه ټولنیزه ډله (کلی) او یا یو شخص د سیندونو پر سر د پلونو جوړولو ته اړ نه کړی شي".

**اته دیرشمه ماده:**

" هیڅ قاضی دا حق نه لري، چې یو تورن یوازې د هغه د اقرار له مخې او د باور وړ شاهدانو له شهادت پرته په تور محکوم کړی".

خو هغه مهم ربنتې او آزادۍ، چې د ستري اعلامیې په خپریدو سره انګریز ولس ته ور په برخه شوې، په لاندې ډول دي:

- هیچا ته دا واک نه دی ور په برخه، چې یو آزاد کس ونیسي، هغه زنداني او یا له هیواده وشړي، خو د هیواد د قوانینو او د با صلاحیتې محکمې د حکم پر بنسټ ...؛
- پاچا ته دا واک نه دی ور په برخه، چې په مذهبی چارو کې لاسوهنه وکړی او د مذهبې مشرانو په ټاکنه کې له خپل ځواک او اغیز څخه کار واخلی؛
- د هر ډول مالیاتو رامنځته کول او اخیستنه باید لومړی د ستري شورا له خوا تصویب کړی شي؛
- ټولواک د دې واک خاوند نه دی، چې له یو چا څخه د هغه شتمني او مالکیت د هغه د بیې له ورکړې پرته، واخلي. د مالکیت سلب باید د محکمې د حکم پر بنسټ او هغه هم د قوانینو له په پام کې نیولو سره سم تر سره شي؛
- د تورونو کسانو د ټولې شتمني لاندې کول (ضبطول) ناشونی دی. یوازې اجرائیه ځواک ته اجازه ورکول کیږي، چې د پلې شوو قوانینو په رڼا کې له تورن شوو څخه جریمه ترلاسه کړي؛
- حق او عدالت نه باید په چا وپلورل شي او نه باید څوک له هغه سر غړونه وکړی او همدارنګه نه هم باید د هغو په پلې کولو کې ځنډ راشي.

د اعلامیې په وروستې ماده، دریشپیتمې، کې ولولو: نو ځکه ټولواک د دې غوښتونکی دی او په دې ټینګار کوی، چې انګلیسی کلیسا خپله آزادۍ لري او په دې فرمان کې نومول شوې آزادۍ، ربنتې او امتیازات به د خپل هیواد په ټولو سیمو کې د تل لپاره په رسمیت پیژني او هغوي ته به ځانګړي درناوی لري، چې د هیواد ټولو وګړي او زموږ راتلونکي د سولې، آزادۍ او آرامی په رڼا کې د هغوي له بنیګنو برخمن او ګټه ترلاسه کړي شي. .... [۱۱].

خو د دغه ستر منشور په اعلام سره، بیا هم د انګلستان د وګړو په ربنتو کې کوم ژور بدلون رامنځته نشو. ځکه د انګلستان ټولواک د یو نامحدود واک خاوند و. همدا لامل و، چې انګریزي ناراضه اشراف دې ته اړ شول،خپلې مبارزې لا پسې سختې او ګړندې کړي او له دې لارې د هیواد واکمن دې ته اړ کړی، د وګړو آزادیو او ربنتو ته غاړه کیږدي. نو ځکه د ولس سیاسي استازو او ناراضو اشرافو په خپل یو لیک کې، چې د ربنتو غوښتنلیک Petition of Right په نامه یادیږي، له خپل ټولواک، لومړی کارل Karl I څخه وغوښتل، چې ټولواک دې: " په راتلونکي کې په خپل سر یا د زور له لارې د مالیاتو له لوړولو او د نوو هغو له رامنځته کولو، د وګړو د زنداني، په جبري استوګنځیو کې د هغو له ځای په ځای کولو او په سوله ییز حالت کې د اضطراري قانون له وضعه کولو څخه مخنیوي وکړي، که څه هم دا ټول د ده له صلاحیتونو څخه ګڼل کیږي" [۱۲].

د دې غوښتنلیک په نورو برخو کې ولولو:

- ټولواک د پارلمان له پريکړي پرته نشي کولی، ماليه او نور ورته لګښتونه لوړ کړي؛
- د قانون له اجازې پرته، بايد هيڅ وګړی زنداني نه شي، محکمي ته و نه غوښتل او تري پوښتني و نه شي او همدارنګه هغه و نه ځورول شي؛
- له دې وروسته بايدسرتيري او سمندري ځواکونه له ځواک ښخه په کار اخيستني سره د وګړو په شخصي کورونو کي ځای په ځای نه شي او
- په سوله ييز حالت کي د جګړه ييزو قوانينو له پلي کولو ښخه ډډه وشي [۱۳].

خو د انګلستان د وخت ټولواک، لومړی کارل د اشرافو او ولس د پورتنيو غوښتنو په وړاندي ډير کلک دريځ او ټينګاو وښود او په خپله يوې هر اړخيزې وينا کي، ولس ته په خطاب کي وويل، چي په هر ډول کيږي، دئ "شاهی ربنتي له لاسوهني خوندي ساتي" [۱۴].

په دې توګه ولس خپله ويلاړ (اراده) له لاسه ور نه کړه او بالاخره يې ټولواک دې ته اړ ايست، چي د دوي غوښتنو ته غاړه کيږدي. وګړو په تيره اشرافو خپلي پورتني غوښتني د يوه ټرون له مخې، چي د ټولواک او ولس تر منځ لاسليک شو، ترلاسه او د واکمن واک او ربنتي هم محدودې شوی.

پاتې بيا

اخځای:

1- Vgl.: Blanke, Herm.- J.: Marksteine in der Entwicklung der Menschenrechte; Vorlesung Staats- und Verfassungsrechte II Sommersemester 2009, Arbeitspapier 1
2- Ebenda;
3- http://www.mediya.net/perlan/farsi/Soroodhaye-zardasht/1.pdf
4- http://www.kazeroon.net/goonagoon/koorosh.htm
5- Ebenda;
6- Ebenda;
7- Ebenda;
8- Ebenda;
9- Ebenda;
10- http://www.koeblergerhard.de/Fontes/MagnaCartalibertatum1215deutsch.htm
11- Ebenda;
12- Propyläen Welt Geschichte, Bd. 7; 1964, S. 244
13- http://www.abipur.de/hausaufgaben/neu/detail/stat/179855463.html
14- Propyläen Welt Geschichte, Bd. 7; 1964, S. 244